عبدالغفور لېوال ۲۰۲۵/۰۷/۰۳

پوهنه، تکنولوژي او وسلهجوړونه

د یویشتمې پېړۍ په روانه لسیزه کې پېښو جګړو هغو ذهنونو ته ټکان ورکړ، چې لا هم لس پېړۍ پخوانیو ولاړو متونو کې سرګردانه دي ..

لرې‌ویشتونکو توغندیو، ډرونونو او د مصنوعي زیرکتیا په مټ روانې تکنولوژیکې نښتې دوی هېښ کړل. له نومهالې پوهې غافلو ذهنونو ولیدل، چې د دوښمن په جیب کې پراته موبایلونه یې په قاتلانو بدلیدلای شي، د یوې ودانۍ په یوه پوړکې په خوب ویده دوښمن سرلښکر په نښه کیږي، خو د لاندې پوړ بربښنا هم لا نه‌پرې کیږي او زرګونه کیلومتره لرې نښې په توغندیو ویشتل کیږي یا د دوښمن توغندي او ډرونونه په هوا کې شنډیږي.

هغوی چې د بشري ژوند په ارت او وېړ ډګر کې یوازې د وسلو، جګړو او وژنو شوق لري، داسې مختګ ته حیران شول او ناڅاپه یې له عصري پوهنو څخه د هغې تکنولوژي اړتیا وپېژانده، چې وسلې پرې جوړیږي. د مثبته یا طبیعي علومو له ګټو منکر شیخان یې راوپارول او ناڅاپه ټولو دا مسئلې پیل کړې، چې والله د وسلوجوړولو پوهه هم ضروري ده او کاشکې موږ لرلای.

کیسه دا ده، چې د نړۍ د پوهنې ګڼ‌اړخیز ډګر دومره پراخ دی، چې وسله جوړونه یې یوه خورا کوشنۍ برخه ده، چې موږ یې له جګړو سره وینو .نړۍ په ټولنیزو علومو؛ فیلوسوفي، فرهنګ، هنر، ادبیات، ټولنپوهنه، اقتصاد، حقوق، سیاست‌پوهه، دولت‌رغوونه، تاریخ، لرغونپوهنه، ژبپوهنه، ټولن‌اروا‌پوهنه، بشري جغرافیا، اسطوره‌پوهنه او نورو برخو کې داسې زنځیري او سره اوبل شوی علمي سیستم رامنځته کړی دی، چې ترڅنګ یې د طبعیي یا مثبته علومو لکه ریاضیات، فیزیک (د کیهاني، اتومي او نورو څانګو په ګډون) ، کیمیا، بیولوژي، زمکپوهنه، طب او ګڼ نور د انساني ژوند د اړتیا پېژندنې پربنسټ مختګ کوي. فیلوسوفي او د بشري پوهنو ټولګه د انساني ټولنو اړتیاوې داسې راپېژني، چې پر بنسټ یې طبیعي پوهنې نویو موندنو ته ورسیږي او د بشر د هوساینې و پیاوړتیا لپاره هڅې دومره ګڼ اړخیزې شوې، چې اوس د علم فیلوسوفي یوې نوې پایلې ته رسېدلې او هغه دا چې پوهنې هرڅومره چې څانګیزې (تخصصي) کیږي، هماغومره یې د بېلتانه کرښې یو تربله له منځه ځي.

هغوی، چې د مختللې نړۍ وسلو او تکنولوژیکې جګړو په ذوق راوستې باید په دې علمي حقیقت وپوهیږي، چې دا ډول وسله جوړونه د ختو کولالي یا مسګري نه ده، چې څو تخنیکران دې راپیدا کړي، وسپنه و څټک په لاس کې ورکړي او هغه به اتومي کوپړۍ لېږدونکې توغندي او ډرونونه درته جوړ کړي. دا ډول وسله‌جوړونه یو پراخ ټولنیز او پوهنیز بستر ته اړتیا لري. ترهرڅه وړاندې به د «پوهې»، پوهنتون او پوهیال انسان ارزښت په رسمیت پېژني او درناوی به یې کوي. ټولنه به د پوهې د زدکړې ودې او نویو پنځونو لپاره مستعده ګرځوي. داسې مناسب انساني او حقوقي چاپېریال به جوړوي، چې هلته ښځې و نر تعلیم وکړي او له هر میلیون زده کوونکیو څخه یوه د فیزیک متخصصه ، له میلیون محصلانو څخه بل د کیمیا او بل د اټومي و کیهاني فیزیک متخصصه/ متخصص وروزل شي، چې بیا دې له سیالانو سره سیال کړلای شي. د مثبته / طبیعي پوهنو وده د ټولنیزو پوهنو د ودې بستر ته اړتیا لري. لرې نه، د افغانستان دوه اسلامي ګاونډیان چې یو اټومي دی او بل یې د اټومي‌کېدو په درشل کې دی، وګورئ: په میلیونونو متخصصې مېرمنې لري. هغوی د ټولنیز فعالیت سیستم د یوې سنجول شوې پلان‌جوړونې پر بنسټ فعال کړی دی. هغوی د هرو پینځو یا لسو کلونو لپاره دا پلان جوړوي، چې څلورکاله روسته څومره ښځینه ښوونکې، ډاکترانې، فیزیک‌پوهانې، اروا‌پوهانې، ټولنپوهانې... چېرته په کوم عمر کې په کار دي؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

فیودور اودویفسکي یو روسي لیکوال و، ده په کال ۱۸۳۵ کې یو کتاب ولیکه، چې نوم یې و: « ۴۳۳۸ م کال» . دا کتاب یو تخییلی کتاب و، چې د ساینسي تخیل ادبي اثر یې هم بللی شو .په دې کتاب کې تر نن ۱۹۰ کاله پخوا دا وړاندوینه شوې وه، چې انسان به داسې یوشی جوړ کړي، چې په کې سپوږمۍ ته ځان ورسوي. په اتموسفیر کې به نوې لارې مومي او د لرې ستوریو د پېژندلو هڅه به کوي. په شلمه او یویشتمه پېړۍ کې انسانان د اودویفسکي تر وړاندوینو ډېر وړاندې ولاړ، خو د هغه د تخییل ډېرې برخې لا هم د نننې انسان ترمخې پرتې دي .د ۴۳۳۸ کال ادبي کتاب څرګندوي، چې د ټولنو په مختیا کې ادبیات، هنر، ټولنیزې پوهنې د ساینسي پرمختګ لپاره بستر چمتو کوي او ناڅرګندو درشلونو ته د رسېدلو تنده راپاروي.

د پوهنو دغه نږدې اړیکې او بافت دا څرګندوي، چې په ټولنه کې د ټولو علومو و دې ته همهاله اړیو. لږترلږه سلګونو لویو پوهنتونونو، لسګونو لویو څېړنیزو مرکزونو، په ګڼو څانګو کې لکونوښځینه و نارینه پوهانو، د ټولنیزې پلان‌جوړونې احصایوي بنسټونو او ملي ارادې ته ضرورت دی، چې بیا یې په پایله کې ته هغه پوځي ځواک ته هم ورسیږي، چې د نورو د جګړو ننداري یې د لرلو تلوسه درپیدا کړې ده.

پښتانه وایي: «په جګړه کې اسونه نه چاغیږي!»

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ